

پښتو
ورلډ نیټ
Pukhto.net
احساس
محمد عزیز سائر
احساس
محمد عزیز سائرؔ
الله تعالیٰ دې سپېڅا
یم چې زما دا کوشش
او په ماتو ګوډو لفظونو
مشتمله دا ګلدسته زموږ
د بې لارې او رنځور تمدن
د اصلاح، او د غم ځپلي
ملت اسلامي د لوی
نسل د هدایت ذریعه
جوړه کړي - آمین
عزیز سائر
جان کتاب کور کبل سوات
نقیب احمد جان ایجنډ اورز حاجی اقبال پلازه کبل سوات فون: 6961 951 345 92+
e-mail: naqibahmed@hotmail.com , naqibahmadjan@yahoo.com

# احساس

محمد عزیز سائر

جان کتاب کور کبل سوات
جان کتاب کور
JAN0345 K 9516 K 961 SW
نقیب احمد جان اینڈ برادرز حاجی اقبال پلازہ کبل سوات فون : 6961 951 345 92+
e-mail: naqibahmed@hotmail.com , naqibahmadjan@yahoo.com

پښتو
Pukhto.net

# تړون

د خپل پلار

خدائے بخښلی
الحاج علی جان صیب

په نوم

محمد عزیز سائر



پښتو
Pukhto.net

# تــــــول حـــقـــــونــــه

د شاعر په حق کښې محفوظ دی


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم: | احساس |
| د شاعر نوم : | محمد عزیز سائر |
| د چاپ کال : | ستمبر 2012 |
| د چاپ چارې : | جان کتاب کور کبل سوات |
| چاپ خانه : | مشرف پرنټنګ ایجنسی پېښور |
| کمپوزنګ : | سعید احمد انجم |
| پروپ /نوی املا: | اتل افغان ، فیض خانه سوات |
| ډیزائن : | نقیب احمد جان |
| د چاپ شمېر : | 500 |
| بیه : | 120 روپۍ |



جان کتاب کور کبل سوات

نقیب احمد جان اینډ برادرز حاجی اقبال پلازه کبل سوات فون :1969 951 345 92+

e-mail: naqibahmed@hotmail.com , naqibahmadjan@yahoo.com


پښتو ورلډ نیټ
Pukhto.net

# فهـــــرست


| عنوان | صفحه | عنوان | صفحه |
|---|---|---|---|
| پېژند ګلو | 5 | رنده مینه | 60 |
| احساس ته کتنه | 6 | د تقدیر وران | 63 |
| عزیز سا ثر او د هغه احساس | 10 | فرقان | 65 |
| احساسات | 12 | دنیا او بقا | 66 |
| د شمس لیک | 14 | استقلال | 69 |
| خپلې خبرې | 19 | قرآن | 71 |
| د رب ستائینه | 22 | د نفس بندګی | 73 |
| حضرت انسان او واښه | 24 | ارمان | 75 |
| بې وسی | 27 | کله ښه او کله بد | 77 |
| د سپرلی بادونه | 29 | لېونے | 78 |
| د نن مسلمان | 32 | سحر بې نوره | 80 |
| نظم | 35 | همت | 82 |
| ژوند | 37 | محبت | 83 |
| نا خوږه زړه | 39 | نیمګړې خواری | 86 |
| ځوانی | 41 | دو رنګی | 89 |
| د کار یو څو خبرې | 43 | دار | 90 |
| استوګنه | 45 | تغیر | 92 |
| زما رور | 51 | بندیوان | 93 |
| دنیا | 53 | ښکلے دے وطن زما | 95 |
| ګرانه زندګی | 55 | دعا | 97 |
| د ژوند رموز | 58 | «««««(o)»»»»» | |




پښتو ویب نټ
Pukhto.net

# پېژندګلو

| | | |
|---|---|---|
| نوم | : | محمد عزیز |
| قلمي نوم | : | سائر |
| د پلار نوم | : | اروابناد الحاج علي جان |
| د زیږون نېټه | : | ۱۹۷۲ع |
| زیږون ځائے | : | جوړ بونېر |
| استوګنه | : | جوړ بونېر |
| تعلیم | : | ایف اے / دولسم |
| تنظیمي تړون | : | سابق صدر سالار پښتو ادبي ټولنه جوړ بونېر |
| ای مېل | : | azizsaaer@yahoo.com |

## دکتاب موندلو درکونه

- جانان کتاب کور کبل سوات
- سالار پښتو ادبي ټولنه (مرکزي دفتر) جوړ بونېر
- سالارزي سټېشنري جوړ بونېر
- علي کتابتون، فيض خانه (اټل افغان)
- پښتو اکېډمي پښاور



پښتو ورلډ نېټ
Pukhto.net

باسمه تعالی

# احساس ته کتنه

د انسانی ژوند د ابتدا نه وروستو انسانی ټولنې په زمکه خورې دې او رو رو ئې د ژوند ژواک وسیلې په لاس راتلې چې تر ننه پورې دغه وسیلې په ارتقائی شکل کښې دوام لری . دغه شان د ژبې پر مختګ د انسانی ټولنو سره وړاندې روان وو انسانی ټولنې خو رونې کولې او په ډلو ډلو تقسیمې دی چې د یو بل سره ئې جغرافیائی پریکړه کېدله . په ځان ځانله زمکه انسانی ټولنو د خپل معیشت، ثقافت، تمدن، سیاست سره د ژوند سفر شروع کړو



پښتو ورا نیټ
Pukhto.net

خـو د دې ټولـو خبـرو سـره د کائینـاتو حقیقـي خـالق انسـانانو لـه دوه داسـې د ژونـد پیمـانې په لاس ورکـړې چـې د نـورو مخلوقـاتو نـه ئـې پـه ځـانګړې توګـه بیـل او غـوره وګرځولو چـې هغه ژبه او شعور وو.

ژبـه د شـعور د محرکـاتو انځـور جـوړوي او پـه دغـه انځـور کښـې د ژونـد سـاه پـوکي. شـعور او ژبـه د انسـاني ټولنـو پـه وده او پـر مختـګ کښـې کـره رول لوبـوي. د خپلـې ژبـې سـره مینـه د انسـاني فطـرت پـه ختـه کښـې اغږلـې وي. او کـوم قامونـه چـې د خپلـې ژبـې سـره مینـه پرېږدي. او د نـورو قـامونو پـه ژبـه وئیلـو ویـاړ کـوي. هغـه د خپـل ماضـي د تجربـاتو مشـاهداتو نـه محرومـه پـاتې شـي. ځکـه چـې ژونـدي قامونـه د خپـل ماضـي د ترخـو خـوږو تجربـاتو سـره د خپـل راتلـونکي وخـت (مسـتقبل) پـه پـوره توګـه تیـاري کـوي، زمـونږ پښـتو ژبـه د پنځـوو زرو کـالو زوړ تـاریخي بنسـټ لـري. خـو بـد قسـمتۍ نـه پښـتون قـام



پښتو
پوهنه
Pukhto.net

لکه د بل مشال د وختونو د طوفانونو په زد کښې را روان دے. چې د دې ژوندی قام ثقافتي او تاریخی نسخې د بهرنی یلغار په وجه مسخ کيږی. په ژبه او قام مئين دا سې ښاغلی د ستائينې وړ دی. چې د بهرنی عسکری او ثقافتی یلغار په طوفانونو کښې د پښتو روایات ثقافت او ژبه ژوندی ساتی د برصغیر مسلمانانو شاعرانو که په خپلو تحقیقی فن پارو کښې دژوند د مختلفو اړخونو ذکر کړے نو بل خوا ئې د پندو نصیحت تصوف او د دين اسلام د پاکو احساساتو افکارو د قلم په ژبه تبليغ کړے دے. زمونږ د پښتو ژبې د ادب جولۍ هم د داسې شاعرانو نه ډکه ده. چې د هغوئ شاعری د ژبې د خدمت سره سره د دين اسلام د احکاماتو پوره پوره عکاسې کوي. لکه د رحمان بابا شعرونه علماء دين د خپل وعظ و نصیحت په وخت کوي. شعر د عربې ژبې توري دے چې د شعور د مادي



پښتو
ولاړ نيټ
Pukhto.net

نه وتې دے نو پکار ده چې داسې شعور دې د خپل قام او د دين اسلام په کار راولي او شاعر دې د مقصديت په چوکاټ کښې دننه شاعري وکړي زۀ د عزيز سائر صيب دې کوښښ او زيار ته په درنه سترګه ګورم چې په نننۍ دور کښې د هغه شعري ټولګه د پند و نصيحت تصوف ، اخلاقياتو، او او د دنيا د بې ثباته ژوند هنداره ده. زما په تنقيدي نظر کښې د هغه دا شعرې ټولګه لږه د ادبي لوازماتو او فني کمو ښکار ده. ولې دا دهغه ورمبۍ تخليقي او شعري ټولګه ده طمع لرم چې هغه به په راتلونکي وخت کښې دشعري لوازماتو خيال وساتي. چې د يو ښۀ شاعر د پاره دغه لوازمات ډېر ضروري دي.

په ډېره مننه

رحيم شاه رحيم

صدر سالار پښتو ادبي ټولنه

بونېر ۷ جولائی ۲۰۱۲ع

پښتو
پوهنه
Pukhto.net

# عزیز سائر
# او د هغه احساس

کله چې د انسان ذهن بالغ شي نو د ده احساس را بهر شي . نو که د ده د نظر مخې ته هر څه راځي دے ورته په دغې نظر ګوري او خپل ټول ماحول دې ته هڅوي .



پښتو
Pukhto.net

چې نور کتونکی هم په دې پوهه شی . ولې عزیز سائر سره د خپل احساس نه علاوه بله لار نشته چې دا خپل چاپېریال آماده کړی . ځکه نو زما په خیال چې د عزیز سائر دا احساس کوم چې ستاسو له پامه تېروی باید چې د اولس او د پښتو مئین د دوئ د زیار په پوره ډول مرسته اوکړی . ولې چې عزیز سائر په خلاص مټ د خپلې مورنۍ ژبې خدمت کوی . اګرچې دا ورمبے کتاب دے چې اولس ته ئې د احساس په نوم راوړی ، خو په شاعرۍ کښې ئې هاغه بخری ځلیږی کوم چې به سبا ته د نوی نسل د کامیابۍ سبب اوګرځی .

په ډېره پښتنه مینه !

خادم یوسفزۍ ، مردان





پښتو ویب
Pukhto.net

# احساسات

ګران عزیز سائر چې دا وخت تاسو ته د خپلو احساساتو وړاندې کولو په هڅه کښې دے. ما ته ئې پرې د خپلو محسوساتو د اظهار موقع راکړه.هرڅو کۀ زما د مشورې برعکس ښاغلے خپل احساسات اورومرو چاپ کول د پښتو ادب په تول کښې اضافه نۀ بلکې د خپلو محسوساتو څرګندونه ګڼي ولې زما په نزد او دا حقیقت هم دے چې د نن پېښې، واقعات او حالات د سبا د پاره تاریخ وی نو په دغه اړوند دا محسوسات چې په فنی اعتبار د درښت او ارزښت کمے محسوسوی نو د سبا څه چې د نن د یو محقق او نقاد دپاره د سوالیه نخښې موقع په لاس ورکوی. د ښاغلی عزیز سائر خیالات د ستائینې وړ دی. اتفاق او اختلاف ورسره د هر چا حق دے. خو دا حقیقت دے چې د ښاغلی لیکوال په سینه کښې یو دردمند زړۀ دے. چې



پښتو
Pukhto.net

د خپل کور کلي ، پولې پټې نه واخله تر نړیوالو پېښو پورې ئې په هر مظلوم زړهٔ درد ږدلے دے. او د هر مظلوم احساسات ئې محسوس کړې دی بلکې په هر قدم ورته ځړیکه ځړیکه احساس کېږي.

زما دا خو کرښې د عزیز سائر د ادبي وزن په تول کښې د ګیتي اچولو د پاره نه دی بلکې د پښتو د ټکو تورو په احترام کښې د مینې د احساساتو اظهار دے. ښاغلي عزیز سائر ته خپلې نېکې مشورې او انتقادي رائے په خلاص مټ راوالېږئ په دې چې هغه ئې په رانه وچولی د قبلولو ځرګندونه کړې ده. او د کومو په رڼا کښې چې به خپلو راروانو تخلیقاتو او احساساتو له د فن په ګومنځ ښه سینګار کوي.

په درنا وی
شبېر زمان سیماب
تانه ملاکنډ
۲۷ اګست ۲۰۱۲ع



پښتو ژباړن بنسټ
Pukhto.net

داکتاب چې ستاسو په لاس کښې دے زما د لرې د تره د زوئ خو د یو سوچ او فکری شراکت په وجه په زړهٔ پورې ، د رور عزیز سائر سکنه جوړ د حساسیت او دردمن زړهٔ اواز او تخلیق دے ما ته ئې د څهٔ لیک په غرض راکړو اګر چې زهٔ د دې لاړ ځلنده واقف کار نهٔ یم چې د قافیواود ردیفونو اصلاح یا ستائنه اوکړم خو د فکری اشتراک په نتیجه کښې ما صرف د هغه فکر او غرض باندې نظر اوکړو او دې مقصد ته ورسیدم چې شاعر د ژوند اصل حقیقت خپل او د رب حیثیت او رشته واضحه کړی ده او عام انسانیت ته ئې د هغوئ مرض او علاج په ګوته کړی دی نو ما پرې هم دا رنګ د لیکلو توکل اوکړو.



پښتو
Pukhto.net

شاعر د ګلدستې په صفحه نمبر 49 زما ورور په عنوان د قران حدیث په رڼا کښې د خپل فکر او د امت مسلمه د وحدت اظهار په ډېر ښکلي انداز کړے دے لکه چې وائي.

چې په ژبه ئې کلمه د لا اله ده
زما ورور دے که پښتون دے که ګوجر
چې دا قدر مشترک نۀ لري څۀ ئې کړم
که پیدا مې وي د تن او د ځیګر

د غه شان په صفحه نمبر 33 د امت مسلمه د شان وضاحت او دنني پستۍ او انتشار فریاد څۀ دا رنګ کولو باندې د بیدارۍ درس ورکوي. وائي

چا پکښې عَلم د قومیت دے اوچت کړے
څوک د سره تیر دے په امین به کوے مړے
د چا پکښې په ژبه د اکابرو ترانې دي
او څوک قبر پرست دے او د چا نه پیرزړه وړے



پښتو
Pukhto.net

منونکې د بل چا دے تش په ژبه ئې رحمان دے
عمل ته چې ئې ګورمه نو عقل مې حېران دے

دا رنګې شاعر د کائناتو په صناعۍ د صناع د تعریف سره ددې نه ظاهریدونکې حکمت او سبق ته اشاره کړی ده.
لکه چې وائی

په بدلون کښې لوئے سبق دے
چې پوهه پرې نۀ دے بس احمق دے

او ورسره د ژوند حقیقت اوحیثیت څۀ دا رنګې ښائی

ژوند تېره خنجر دے پرې غوڅېږمه
لاس راکړئ همزولو پرې غورزېږمه

او یا د عمر زغل او نېمګړتیا څۀ داسې واضحه کوی

چا وې ځوانی به راځی د پرئې په طمع وومه
سترګو مې لار څارله خو په زړۀ جمع وومه
خو طمع طمع کښې زۀ ښۀ په دهوکه پاتې شومه



پښتو ورلډ نېټ
Pukhto.net

## څۀ مې غوښتل د ربه اودا زۀ څۀ پاتې شومه

شاعر د دنیا حېثیت د انسان تنګ نظری او کم فهمی او د ژوند حقیقت او د رب کائینات د حېثیت په دلسوزی سره د واضحه کولو خواری کړی ده. د یو بهترین ناصح او واعظ کردار ئې ادا کړے دے او کله د ویخولو د پاره لکه په سترګو کښې د ګتې ورکولو شان توmب ورکړے دے. لکه

سوچ اوکه ځان غافله څۀ له ته راغلے وې
بیا په څۀ مقصد په رتبه غوره ګرځېدلے وې
دا څۀ اوشو په تا چې تابعدار د معصیت شولې
رسې د اخرت شلوې او ښکار د عصبیت شولې

خو شاعر صرف د فریاد ژبه نۀ ده خپله کړې چې تشخیص کوی او علاج نه درښائی بلکه د استقلال او د جهد مسلسل دارو درمل هم ښائی او وائی چې صفحه نمبر 69/70



پښتو ویب پاڼه
Pukhto.net

غاپي سپي به غاپي ترينه مه کوه خطر
ځه په خپله لاره په منزل لره نظر
شاهين ئې د اقبال لږ نظرونه عقابي لره
هدف ته رسېدو ته دې په زړهٔ کښې بې تابي لره

يا په صفحه نمبر 72 قران طرف ته دعوت او د علاج په توګه داسې وائی

دا ائين دے دا دستور دے دا رڼا ده دا يو نور دے
هر عاقل پرې ښۀ پوهيږي چې خاوند لږ د شعور دے

الغرض دا چې شاعر د اقبال ، رحمان بابا او د حافظ صاحب الپوري لکه زما غوندې غائبانه روحاني پرسوز شاګرد ښکاري زۀ به ورته داسې اووايم

هم ډيوه شه هم لالټين شه هم بجلۍ شه
رڼا نمر شه هم شه سبورے هم سپوږمۍ شه

شمس الرحمن شمس ايډوکيټ
بازارګے بونېر



پښتو
ورلډ نېټ
Pukhto.net

# خپلې خبرې

گرانه وروره! د احساس په نوم دا کوم کتاب چې ستا په لاس کښې دے، دې ته زۀ د خپلو خيالاتو او احساساتو مجموعه وايم د شاعرۍ نۀ. ولې چې شاعري د فن او د



پښتو
Pukhto.net

حکمت یو داسې سمندر دے چې د هغې د غورځنګونو او د موجونو سره تاؤ راتاؤ کېدل، یا لوېې کول کم از کم زما د وس خبره نۀ ده. په دې حقله راته ځان بالکل نابلده، ناهنجاره او پیاده ښکاری، او داسې ګڼم لکه چې زۀ په ساحل ناست یم او د ورایه د سمندر د موجونو نظارې او ننداري کوم. په دې وجه نقائص به ډېر وی. کمې به بېسیاره وی د کتاب په ځنې ځایونو کښې به د شاعرۍ د ادابو خیال نۀ وی ساتلې شوے. چې په هغې زۀ بخښنه غواړم. او ورسره الله رب العزت ته لاس په دعا یم چې زما دا کوشش او په ماتو ګوډو لفظونو مشتمله زما دا ګلدسته زمونږ د بې لارې او رنځور تمدن د اصلاح، او د غم ځپلې ملت اسلامی د نوی نسل د هدایت ذریعه جوړه کړی. امین ثم امین

ستاسو ورور

محمد عزیز سائر جوړ بونېر



پښتو ورلډ نیټ
Pukhto.net

شروع کوم په نامه باندې د رب ذوالجلال
چې مالک دے د مشرق مغرب جنوب او د شمال



پښتو
Pukhto.net

# د رب ستائینه

زۀ که ماښام او که سحر ګورمه
کل جهان ستا په رحمت تر ګورمه

که دې په پورته په اسمان کړم نظر
یا دې چاپېر په ګلستان کړم نظر
زۀ که دې دشت او که بحر ګورمه
کل جهان ستا په رحمت تر ګورمه

که ځائے په ځائے ولاړ دنګ غرونه ګورم
یا دې په زمکه ګل باغونه ګورم
پکښې هر نوع خوارۀ ثمر ګورمه

پښتو ویب پاڼه
Pukhto.net

کل جهان ستا په رحمت تر ګورمه

کله کړې شپه او کله ورځ کړې په مونږ
کله کړې شین کله وریځ کړې په مونږ
ستوری ، سپوږمۍ او کله نمر ګورمه
کل جهان ستا په رحمت تر ګورمه

هر یو ذی نفس ستا قدرتونه ستائی
مارغان لګیا دی ستا حمدونه وائی
تارو، زرکان او که تیتر ګورمه
کل جهان ستا په رحمت تر ګورمه

وائی سائر د قدرتونو رب ئې
د کل هماؤ صفتونو رب ئې
تابع هر شې دې د امر ګورمه
کل جهان ستا په رحمت تر ګورمه



پښتو
Pukhto.net

# حضرت انسان او واښهٔ

اے د وښو بوټيه ته خو غوره ئې زمانه
زرغون شې او رودل شې فنا شې د دنيا نه

نهٔ د رسره ژوند کښې څهٔ فکرونه او سوچونه شته
خانده خوشحاليږه نهٔ خو تا لره زغمونه شته
نهٔ د پردې خپل د لاسه ستا په زړهٔ داغونه شته
او نهٔ درپسې شاته په اخر کښې حسابونه شته

نـــۀ ګیلـــې لـــرے تـــۀ د رقیـــب او د جانانـــه
زرغـــون شـــې او رودل شـــې فنـــا شـــې د دنیـــا نـــه

نـۀ خـو فکـر د سـبا لـرې او نـۀ جـوار غـنم لـرې
نـۀ وینـې خوشـحالی وختـی او نـۀ دائمـی غـم لـرې
نۀ دې څـوک بـد خـواه شـته دے نـۀ چرتـه صـنم لـرې
نۀ دې شـته پـه زړۀ خفګـان نـۀ سترګو کښـې نـم لـرې

څـومره بختـور ئـې چـې بـې نیـاز ئـې د هـر چـا نـه
زرغـــون شـــې او رودل شـــې فنـــا شـــې د دنیـــا نـــه

زۀ ووم د خاورې جوړ خو رب عالم کښـې بـر ترکـړے ووم
تـابع وو زمکـه اسـمان زمـا او زۀ ئـې امـر کـړے ووم
بیـا د وړانـدې وروسـتو پـه دسـتور ئـې خبـر کـړے ووم
د سر نه تر د پښـو پـورې احسـان کښـې ئـې تـر کـړے ووم

خـو نشـته بـل زمـا نـه پـه دنیـا کښـې بـې احسـانه
زرغـــون شـــې او رودل شـــې فنـــا شـــې د دنیـــا نـــه



پښتو ورلډ نیټ
Pukhto.net

ما مې هدایت د خپل خالق نن په شا کړے دے
منصب مې خلافت وو خو نن ما ښۀ رسوا کړے دے
هر ځائے اه و بکا ده ما جهان په غوغا کړے دے
جن و انس ئې څۀ کړې ما هر جنس په ژړا کړے دے

نشته دے بل کار مې ما سوائی د دغا نه
زرغون شي او رودل شي فنا شي د دنیا نه

یو راهی بې منزل یمه په ځان باندې حېران یمه
ژوند تېر مې شو په اور کښې اوس اخر له پرېشان یمه
کوز سترګې به یم هغه وخت باغی د خپل سلطان یمه
سائر وائی شعور لرم اخر حضرت انسان یمه

تش په دې طمع اوسېږم چې مې رب دے مهربانه
زرغون شي او رودل شي فنا شي د دنیا نه



پښتو
ولاړ ښ
Pukhto.net

## بې وسي

مهر به لب یم او رشتیا هر ګز وئیلے نۀ شم
قابل د مرګ وي د خان سپے زۀ ئې ګنځلے نۀ شم

تاؤ مې هر وخت وي زولنې د مجبورئ د ژبې
منلے غل وي خو زۀ غل په غل بللے نۀ شم

وائي پوهان ځې غوایان مدام د زورور په لوړه
چې شپې ته ورځ اووائي بیا ئې شپه کولے نۀ شم

په چاپېرچل کښې چې مې ګورم ډېر بتان وینمه
خو ابراهیم نۀ یمه یو ترې ماتولے نۀ شم



پښتو
Pukhto.net

چاته که کومه نن د عقل او نصيحت خبرے
بيا د ګريوان مې نيسي ځان ترې خلاصولے نۀ شم

بد خواه لاسونه ښۀ په نره مې چمن تالاکړو
په نوم باغوان يمه زۀ د غه لاس نيولے نۀ شم

لاړې فنا شولې، د حق او د انصاف غلغلې
توري تيارې دی، خو زۀ شمع بلولے نۀ شم

ساه مې ډوبيږي يو سپيره د ساه ډوبيږ فضا ده
غوارم ژړا په چغو ګنه ده ژړلے نۀ شم

خفه په خپله بې وسئ يم ربه دا څۀ اوشو
وومه سردار د عالم، خو نن سترګې غړولے نۀ شم

بل فکر دا چې څۀ به کيږی د حشر په مقام
ته به حساب غواړې او زۀ سائر به ئې درکولے نۀ شم



پښتو
ولاړ ښېپ
Pukhto.net

## د سپرلي بادونه

څومره خواږه دي د سپرلي بادونه
سپړي په څانګو کښې غوټۍ ګلونه

د هر ذي روح په مخ خندا ګډېږي
هېر ئې وختي دي د خزان غمونه



پښتو
Pukhto.net

را ماتې مستې هواګانې شولې
په سر د زمکې خنداګانې شولې
ورکې د ویخ نه ژړاګانې شولې
تودې سینې وروستو شاګانې شولې
ویجاړې سیمې ښې ودانې شولې
ویخې د ژوند تمناګانې شولې

فضا کښې الوزوی عجب رنګونه
ښکته په زمکه شور کوی سیندونه
بر د نختر په غره کښې وائی نغمې
څانګې په پاڼو پټوی مخونه

ښې رنګینۍ دی ښۀ رونق دے
ګل په قدم قدم نن پړق دے
خوشحال افق او شفق دے
هر ولاړ غر زرق برق دے
چې پوئې پرې نۀ دے بس احمق دے



پښتو
Pukhto.net

دا په مخلوق دی د خالق رحمونه
لږ دې کولاؤ کړه د مزغو درزونه
فضول چغارې د مرغو مه ګڼه
وائی په خپل زبان د رب حمدونه

کله وې شین جهان پرقیږی
یا په شیبو باران وریږی
اوبه د ګټو نه زنزیږی
شینکې په للمو کښې ټوکیږی
په میدان شین قالین غوړیږی
پکښې تک سپین غاټول ځلیږی

مست موسم دے مست ئې دی خوندونه
ځکه سائر اولیکل مست بیتونه
سر به سجود شو د الله په حضور
بیا ئې کړه پورته په دعا لاسونه



Pukhto.net

## د نن مسلمان

هسې په ظاهره خو نن هر يو مسلمان دے
عمل ته ئې چې ګورمه نو عقل مې حېران دے

دا هغه امت دے چې عالم کښې غوره شوے
خو نن ئې هر يو فرد د نيغې لار په ډډه شوے



پښتو
Pukhto.net

دروغ ئې کاروبار دے حرام ئې خوراک ده
د سر نه تر د پښو پورې په ګند کښې غوپه شوے

نن دده ټول ژوند د سنت رد قران دے
عمل ته ئې چې ګورمه نو عقل مې حېران دے

د ګورې نه خو خوږ دے خو عمل کښې ئې دهوکه ده
دے پی، که درله راوړی ته به وائې ټوله اوبه ده
په مرچو مصالحو کښې استاد د ملاوټ دے
په چائے کښې ئې شامله د چڼې توره بوره ده

د دې عمل د لاسه خو رسوا په ټول جهان دے
عمل ته ئې چې ګورمه نو عقل مې حېران دے

چا پکښې علم د قومیت دے اوچت کړے
څوک د سره تېر دے په امین به کوی مړے
د چا پکښې په ژبه دا کابرو ترانے دی
او څوک قبر پرست دے او د چا نه پیر زړه وړے



پښتو ورلډ نېټ
Pukhto.net

منـــونكې د بـــل چـــا د ے تـــش پـــه ژبـــه ئـــې رحمـــان د ے
عمـــل تـــه ئـــې چـــې ګورمـــه نـــو عقـــل مـــې حېـــران د ے

امـــی د ے کـــه مـــلا د ے یـــا خـــان د ے کـــه نـــوکر د ے
پـــه ګـــډه وډه ســـر د ے هغـــه پـــلار د ے کـــه پســـر د ے
شـــېطان د خواهشـــاتو هـــر وخـــت ئـــې پـــه ســـر ســـور د ے
تعلـــیم د اســـلام څـــۀ د ے نـــو ددې نـــه نـــا خبـــر د ے

ځکـــه مقـــدر د ده شکســـت پـــه هـــر مېـــدان د ے
عمـــل تـــه ئـــې چـــې ګورمـــه نـــو عقـــل مـــې حېـــران د ے

څـــۀ عجیبـــه مایوســـی ده کـــل پوهـــان د ملـــت ژاړی
پـــه بارګـــاه الهـــی کښـــې دوئ اصـــلاح د مـــومن غـــواړی
بدبختـــه د ے د تخـــت نـــه پـــه تختـــه راغورزېـــدلې
د دنیـــا د هـــر اړخـــه نـــن وریـــږی پـــه ده کـــاڼی

ســـائر د غمـــه اوچ شـــو تـــول وجـــود ئـــې پـــه لـــړزان د ے
عمـــل تـــه ئـــې چـــې ګورمـــه نـــو عقـــل مـــې حېـــران د ے



پښتو ورلډ ټیم
Pukhto.net

# نظم

ووم وړوکے په کوټو به لوبېدم
د دنیا په سود او بود نۀ پوهېدم

د خپلوانو مینه ټوله راسره وه
لکه شمع په محفل کښې بلېدم

خوشحالي وې رنګینۍ زما په سر وې
ورځ د ورځې په بدن به غټېدم

نۀ خوراک او نۀ پوشاک مې کمزوري وه
شنه ورشو وه لکه ګډ به څرېدم



پښتو
Pukhto.net

ارمانونه ډېر په زړۀ مې رادلې وو
څۀ پوره شو څۀ ته زۀ به کړېدم

شړنګ پړنګ زما رواج وو تهذيب نه وو
او تش په توره په برقا به خندېدم

خو چې مې عمر د څلوېښتو درشل پار کړو
نو رورو بيا په هر راز اورسېدم

د شعور غشو په زړۀ سورې سورې کړم
خرمن مې شوه نرۍ او په هوا اوګرېدم

لږ ساعت لکه طاؤس مې پښوته پام شو
بيا په سلګو سلګو په ځان اوژړېدم

ما سائر سپرلی ليدلې وو خزانه خبر نۀ ووم
خو خزان چې کله راغے وومه ګل اودوړېدم



پښتو ورلډ نېټ
Pukhto.net

# ژوند

ژوند تېره خنجر دے پرې غوڅېږمه
لاس راکړئ همزولو پرې غورځېږمه

ژوند خو د نیا دنګې کمرې دی
یا لکه د ویل کندې جورې دی
ګرځمه په پال ډېر پرې ویرېږمه
لاس راکړئ همزولو پرې غورځېږمه

ګېر چاپېره تاؤ مې غنې جاړې دی
زۀ یمه مجبور زما پرې لارې دی



پښتو
Pukhto.net

ځان کړمه راتول ګنې شوکېږمه
لاس راکړئ همزولو پرې غورزېږمه

دلته خو رنګ رنګ مصیبتونه دی
لږه خوشحالی ده ډېر غمونه دی
بلې دی لمبې زۀ پرې سوزیږمه
لاس راکړئ همزولو پرې غورزېږمه

ډکې ئې د مکر اداګانې دی
خلې خندوی زړۀ کښې ژړاګانې دی
ښۀ د فریب ژوند دے پرې غولیږمه
لاس راکړئ همزولو پرې غورزېږمه

پام کوئ ملګرو چې خطا نۀ شئ
دا دنیا فانی ده پرې شیدا نۀ شئ
زۀ سائر یم ډېر چې پرې غوړیږمه
لاس راکړئ همزولو پرې غورزېږمه



پښتو
ټولنه
Pukhto.net

# نا خوږه زړهٔ

که ګڼين خورم خدائے ګو زړهٔ مې نهٔ خوږېږی
څهٔ ژوند دے خو تېرېږی شپه کېږی سبا کېږی

نهٔ عمر کښې برکت شته نهٔ ژوند کښې څهٔ لذت شته
کلونه مياشتې ورځې لکه باد په شان چلېږی



پښتو
pukhto.net

ورک مشر کښې شفقت شو او کشر کښې عزت شو
د چا څنګ له چې څمه واوړئ حلق مې ترخیږی

خپلوان مې د لالچ دی، هغه غټ دی او که کچ دی
د زړهٔ غوښې خورومه پرې بیا هم مې نهٔ خپلیږی

په مخ مې تول صفت کوی په شا مې بیا غیبت کوی
نهٔ فکر اخرت شته نهٔ خدائے نه دوئ ویریږی

تش بغض و حسد دے نن او هر سړے بد بد دے نن
د ورایه راته خاندی خو په زړهٔ کښې به پړسیږی

د دروغو حکومت دے یو لوے منافقت دے
په زړهٔ کښې لری یو څهٔ په خله بل څهٔ بیانیږی

څهٔ جوړه دا دنیا شوله پکښې ختمه ننګ وفا شوله
خوشحاله احمقان دی خو سائر پکښې ژړیږی



پښتو ورلډ نټ
Pukhto.net

# ځواني

ځــۀ مــې غوښــتل د ربــه او دا زۀ څــۀ پــاتې شــوم
ځــوانی مــې تېــرو تلــه او زۀ هغــه پــاتې شــوم

چــا وې ځــواني بــه راځــي ده بېــرته ئــې پــه طمــع وومــه
ســترګو مــې لاړ څارلــه ښــۀ پــه زړۀ جمــع وومــه
خــو طمــع طمــع کښــې زۀ ښــۀ پــه دهوکــه پــاتې شــوم

مــا وې ســپرلے بــه راشــي او ښــکلې ګــل بــه شــمه
څــۀ څــانګې وانګــې بــه شــم او يــو پــه ســل بــه شــمه
خــو چــې ســپرلے تېــر وتــو نــو ښــۀ اوده پــاتې شــوم



پښتو
ولاړ ښ
Pukhto.net

ما وې هغه به کووم ، او ما وې دا به کووم
هم د اخر فکر وو هم دې دنیا به خوړم
خو هیڅ مې او نه کړلو تش په وعده پاتې شوم

شینکے یو څو ورځې وو اوس په رورو اوچیږم
سرخی مې لاړه د مخ او په رورو زیړیږم
هوا مې وړی او راوړی نرے وابښهٔ پاتې شوم

غولیږئ مه په ځوانۍ لږ اختصار ئې ګورئ
راځی په پل د میګی د تلو رفتار ئې ګورئ
پاتی د زغل نهٔ شئ څنګه چې زهٔ پاتې شوم

سائر یم ګورم ځان کښې ښکاره اثار د خزان
پرزه پرزه د بدن مې کړی اظهار د خزان
سر مې ګنجے شو ګورئ پاک د ویښته پاتې شوم



پښتو ورلډ ښې
Pukhto.net



## د کاریو څو خبرې

که ځان دې خاورې نۀ کړو نو چرې ګل به نۀ شې
الف تنها به ئې تل، او شمار په شل به نۀ شې

دروغ تېرے په ژوند کښې رشتیا رښا او منه
که د احساس دې لرو، نو یاد په غل به نۀ شې



پښتو
pukhto.net

مدام کره ګلونه بیا تول ګلونه اخله
او که دې کرلې غنې بچ په څهٔ ول به نهٔ شې

په پښنده ورکړه سینه ځان ته پتون پاتې کړه
که وهی ځان ته کشئ نو یار د بل به نهٔ شې

په کتې کښې پرېږده بر سر پیانړمه مکتب اوګنه
که شوې ډائرکټ صوبیدار پوهه په چل به نهٔ شې

دا څو د کار خبرې سائر ته ئې پلار ښودلی
وې زویه عامل شه په دې خوار په ازل به نهٔ شې



پښتو ورلډ نېټ
Pukhto.net

# استوګنه

ده مې استوګنه د پسانو او ګډانو سره
په خصلت نور څه دي په نوم د انسانانو سره

وومه نادان ما خو وئيل چې صالحانو کښې يم
ژوند د دنيا به وي جنت په جنتيانو کښې يم
کوی هر لاس به نيکی ما وې نيکانو کښې يم
وائی به هره خله رشتيا په صادقانو کښې يم



پښتو ورلډ نیټ
Pukhto.net

نــه ووم خبــر چــې یــم د بــدو بلاګــانو ســره

دلتــه اوسیږی خــو انســان، انســانیت نشــته دے
تشــی خبــری دی د خلــې څــۀ حقیقــت نشــته دے
سپینې جامې دی په هر تــن خو شرافت نشــته دے
ډک دے د بغــض نــه هــر مــن او اخــوت نشــته دے

خدایــه کېښــوتې یمــه د ســمو شــوداګانو ســره

جــوړ محفلونــه ځــائے پــه ځــائے دی غیبتونــه کــوی
د بــل بــه ســپکه وائــی، او خپــل صــفتونه کــوی
رونــړه پــه مېــنځ کښــې مــرور دی بــد نیتونــه کــوی
خوابنــې د انګــور ده خفــه ژاړی ویرونــه کــوی

چــې خپــل بچــی خــوری یــم د هغــې خامــارانو ســره



پښتو ټولنیز
Pukhto.net

څوک بد عمله دي بې حده مور او پلار تنګوي
څوک مروت نه پېژني خپل رشته دار تنګوي
څوک په رښا ورځې لګیا وي د قوم لار تنګوي
سوچ د محشر د حساب نشته ښۀ په جار تنګوي

شپه مې راغلې ده د داسې غاصبانو سره

ډېر دي را داؤ کړي په ښادۍ کښې وائي خپل یمه زۀ
چې سخته راشي ځوان به وائي تکړه د زغل یمه زۀ
ډېر دے وعدې اوکړي سحر وائي اتل یمه زۀ
خو چې مابنام شي وائي هغه نۀ یم بل یمه زۀ

ډېرې پېښې دي د پېتاؤ د شادوګانو سره

یو بل په تشو کښې وهي او په ورو کوي جنګ
کله کله دا شرمېدلي به په سپو کوي جنګ
چې نور څۀ نۀ مومي د جنګ نو په وښو کوي جنګ
یا به چرګان کړي بهانه یا په اوبو کوي جنګ



پښتو ورانګ سټ
Pukhto.net

دلته خو ژوند تانتې جوئیل دی دهاتیانو سره

خدائے گو حجرې ته که ورځم یا که بازار له ورځم
دا مې یقین وی چې زهٔ یو نمبر مکار له ورځم
ظلم روا دے په هر لور که هرې لار له ورځم
خورمه په تول کښې گذار جخت که دکاندار له ورځم

وینم چرې په ترخ کښې زهٔ د قصابانو سره

وائی سائر په داسې کلی او په ښار څهٔ کړم
چې پتې هنجې خرخوی په نوم عطار څهٔ کړم
په اور د حسد سوزېدلے رشته دار څهٔ کړم
یا چې وفا نه پېژنی په هاغه یار څهٔ کړم

زر ده چې کډه کړی په سر ځی د پېریانو سره



پښتو
Pukhto.net

## زما ورور

په دې نۀ يم چې د لر دے که د بر دے
يا اوسيږی د دنيا په هغې سر

چې په ژبه ئې کلمه د لااله ده
زما ورور دے که پښتون دے که ګوجر



Pukhto.net

چې دا قـدر مشـترک نـۀ لـری څـۀ ئـې کـړم
کــه پېــدا مــې وی د تــن او د ځیګــر

ذات، پـات او تـور وسـپین مـې معیـار نـۀ دے
نــۀ قائــل یــم د کمتــر او د بــد تــر

تـول ملـت وائـی د یـو جسـم پـه شـان دے
دا تعلــیم مــې دے د ښــکلی پېغمبــر

زۀ سـائر وایـم چـې ځـان بـه پـرې قربـان کـړم
او پــه دې لــوظ بــه ولاړ یــم لکــه غــر



پښتو
ورځ نېټ
Pukhto.net

# شمع

تورې تيارې دي پاڅه سبا کړه
اې مسلمانه شمع رڼا کړه

پاس د اسمان لمنې سرې دي
شپه ده په زمکه تيارې خورې دي
حق پټوي مخ د لکير ولاړ دے
باطل ګډيږي ښي ئې چرچې دي

مخلوق ژړيږي ته ئې په خندا کړه
اې مسلمانه شمع رڼا کړه

يو ظلم زور دے يو استحصال دے
هر خوا ته خور يو د مکر جال دے
چې ښۀ سړے دے نو ښۀ کړيږي
چې نه سړے دے خاوند د مال دے



پښتو
پوهنه
Pukhto.net

د مساواتو پورته صدا کړه
اے مسلمانه شمع رڼا کړه

غرونه، سمونه او بوټی کانی
په زړهٔ غمژن دی په ژړا ژاړی
سترګې په لار دی ستا لارې څاری
عادل عمر بل دنیا له غواړی

پوره د دوئ دا نیک تمنا کړه
اے مسلمانه شمع رڼا کړه
لاړل او راغلل ډیر نظامونه
خو ښاد ئې نهٔ کړل خوار قسمتونه
خاورې سائر هم د ظلم ښکار دے
په تا ئې ایښودی خپل نظرونه

د ده قبوله دا التجا کړه
اے مسلمانه شمع رڼا کړه



پښتو
ورا ن ښ
Pukhto.net



## دنیا

اویزان د کمر تل شوم، چې مئین دې په اوربل شوم
نۀ د دین نۀ د سا دین شوم نۀ ځان او نۀ د بل شوم



پښتو
Pukhto.net

یو کاغذ دې کړم بې کاره یمه پروت په لویه لاره
یا د باد په مخکښې زغلم، یاد پښو لاندې غویل شوم

نۀ دې ځان ته رانژدې کړم نۀ دې خپل نۀ دې پردے کړم
نۀ دې خله په مینه راکړه نۀ اوده دې په څنګل شوم

د سرو شونډو خندا دې د مستۍ هرې ادا دې
ستا په مینه کښې جلبل کړم او غافله د رب خپل شوم

خدائے ګوچې سم سړے ووم زۀ یو ځلنده غمے ووم
خو چې تا پسې پسې شوم، ښۀ کربلے په ازل شوم

ما سائر وې تۀ زما ئې خو تۀ ډېره بې وفا ئې
راته ښکارې چې دنیا ئې ښۀ ده پوهه دې په چل شوم



پښتو ورلډ نېټ
Pukhto.net

# ګرانه زندګي

وائي څوک به وائي چې اسانه ده
دا زندګي نوره ماته ګرانه ده



پښتو ورلډ نېټ
Pukhto.net

وینه مې نن او چې د بدن شوله
غوښۀ ټوله توئې زما د تن شوله
ما خزان وخلي سپرلې او نۀ لید
پاڼه هره زېړه د چمن شوله

هره ورځ مې بده د بېګا نه ده
دا زندګي نوره ماته ګرانه ده

خلق د دنیا ما ته کنځل کوي
سپک شومه په سپک نظر کتل کوي
څنګ له د چا تلې نه شم ویرېږمه
داړې مې د سپو په شان داړل کوي

وی به په چا روغه په ما ورانه ده
دا زندګي نوره ماته ګرانه ده

نوم د خدائے په ژبه اغستے نۀ شم
شپه ده خو زۀ شپې ته شپه وئیے نۀ شم



پښتو
Pukhto.net

ناستې مې څوکۍ په سوچ وخيال دی نن
دا فکر مې خوری چې ليونے نۀ شم

حېران يم حقيقت دے که افسانه ده
دا زندګی نوره ماته ګرانه ده

ما خاورې سائر چې په چا ناز کوو
هغې بې وفا کار د غماز کوو
سر ومال هر څۀ مې پرې شيندلی وو
خو ده مې د د شمن سره ساز باز کوو

خپل مې شو دشمن ګيله د چا نه ده
دا زندګی نوره ماته ګرانه ده



پښتو ورانګ نېټ
Pukhto.net

## د ژوند رموز

یو رب د ځان اسره کړه نهٔ چې د بل د زلف اسیر شې
چې تل رب درسره مل وی نهٔ په یو میدان به زېر شې



پښتو
Pukhto.net

خبر د هر چا د رب غواړه پټ په دې کښې به دې خبر وی
بل ته دام د فریب مهٔ ږده چرته خپل دام کښې به ګیر شې

خوږ د ګوړی په شان نهٔ شی ګنې خلق به دې تېر کړی
نهٔ شی زهر چې دې تو کړی نهٔ سخا بوټی د ګندېر شې

اوږه کوزه لره کور کښی لوړ مقام که بهر غواړې
که کور سپک شوې بیابه ورک شی په نه خلقو کښې به شمېر شې

عزت ورکړه عزت واخله ډېره ښهٔ نقده سودا ده
بل ردروند ګڼه د ځانه چې د پاؤ نه شمار په سېر شې

ښهٔ امر به شی سائره دا د ژوند د رموز ایزده کړه
او که مدام په هوا سوریې نو د خلقو نه به هېر شی



پښتو
ورانبڼ
Pukhto.net

# ړنده مینه

نۀ شوه نصیب کښې مې خندا د مینې
تا له ترغه مې شوه دنیا د مینې

ما په خیالونو کښې محل جوړوو
ډېر په هنر ډېر مې په چل جوړوو
د ورایه ټولو غمازیانو خندل
او ما په ګوتو خپل ازل جوړوو


پښتو
پښتو ورلډ ویب
Pukhto.net

خو پوهه نهٔ شوم په سودا د مینې
تاله ترغه مې شوه دنیا د مینې

ډېر ووې مهٔ کوه فضول خواري ده
ځان به رنځور کړې مینه بیماري ده
ځنې خپلوانو به مې لاس نیولو
خو ماوې نهٔ منم عبث زاري ده

څهٔ ووم عجب په انتها د مینې
تا له ترغه مې شوه دنیا د مینې

وومه نادان ځان مې دانا ګڼلو
په کل مخلوق مې ځان بالا ګڼلو
د خپل پردي هډو تمیز مې نهٔ وو
د سر دشمن مې خپل اشنا ګڼلو

جوړ شو اشنا راته بلا د مینې
تا له ترغه مې شوه دنیا دمینې



پښتو ورلډ نېټ
Pukhto.net

ما خو په دې دنيا وفا کتله
تورې تيارې وې ما رڼا کتله
د انتظار د لوئې شپې نه وروستو
ما سپين مائې بيا د سبا کتله

خو نۀ شو په ما چرې سبا د مينې
تا له ترغه مې شوه دنيا د مينې

زۀ سائر اوس نصيحتونه کووم
او د عاشقانو منتونه کووم
پخپله اور د عشق لمبه لمبه کړم
د ډېر تکليف پوکې اهونه کووم

بس کړې توبه کړې د هر چا د مينې
تا له ترغه مې شوه دنيا د مينې



پښتو ورلډ ډاټ نيټ
Pukhto.net

## د تقدیر وران

د تقدیر وران په تدبیر جوړېږي نهٔ
دا فطرت دے او فطرت بدلېږي نهٔ



پښتو
Pukhto.net

غر به اوخوزي خوئ نۀ دا يو متل دے
د عادي عادت په چار نوريږي نۀ

څۀ احمق ئې چې هر کاڼي ته لعل وائې
هر يو کانړے لکه لعل ځليږي نۀ

د دنيا واړه کاره ئې په نصيب دي
اوچ لرګي دي او په زور نېغيږي نۀ

د شړې په ټوکې عبث خواري ئې اوکړه
خو دا په اصل دے تک تور سپينږي نۀ

ليونے سائر د ګل په طمع ناست دے
او په ما توره زمکه ګل ټوکيږي نۀ



پښتو
pukhto.net

# فرقان

ویښ شه مسلمانه لږ خو ځان اوپېژنه
نور دینونه پرېږده دین اسان اوپېژنه

سوچ اوکړه په ځان غافله څهٔ له راغلے وې
بیا په څهٔ مقصد په رتبه غوره ګرځېدلے وې
دا د رب احسان وو لږ احسان اوپېژنه
نور دینونه پرېږده دین اسان اوپېژنه

بنده دهغې رب شه چې شریک په نامه نهٔ لری
یو کن فیکون ذات دے محتاجی د تعریف نهٔ لری



پښتو ورانګ نیټ
Pukhto.net

مــات کــړه بتــان مــات کــړه یــو رحمــان اوپېژنــه
نــور دینونــه پریــږده دیــن اســان اوپېژنــه

ستـا سـره قـران د ے ښـۀ لـرې د ژونـد کامـل نظـام
تریـاق د ے پـه سـنت محمـد کښـې دی شـامل تمـام
چـې پـرې حـق باطـل بېلیـږی دغـه فرقـان اوپېژنـه
نــور دینونــه پریــږده دیــن اســان اوپېژنــه

دا څـۀ اوشـو پـه تـا چـې تابعـدار د معصیت شـولې
رسـی د اخـوت شـلولې او ښـکار د عصبیت شـولې
راهــی د راه حــق شــه حــق کــاروان اوپېژنــه
نــور دینونــه پریــږده دیــن اســان اوپېژنــه

ډېـر د ے یـو سـائر چـې پـه رښـا ورځ تندکونـه خـوری
بـورا لکـه چمـن کښـې پـه ګلونـو چـور لکونـه خـوری
ګرځـی ګـلان نـۀ پېژنـی خـو تـه ګـلان اوپېژنـه
نــور دینونــه پریــږده دیــن اســان اوپېژنــه



پښتو
ټولګې نټ
Pukhto.net



# دنیا او بقا

د دنیا په ژوند کښې مۀ ګورئ بقا
بې وفا ده پکښې نشته دے وفا



پښتو ورلډ ویب
Pukhto.net

ډېر هامان او ډېر شداد دنيا لېدلې
وايه څۀ شو نخښۀ ئې نشته په دنيا

شمېر ګلونه مې د وړاندې را زرغون شو
باغ هغه دے خو ګلونه شو فنا

ارمانونه پټ سينه کښې هر چا يوړل
پوره نۀ شوله د چا څۀ مدعا

د سپکې په شان د اوو ژرندو تېر شوم
هله پوهه شوم څۀ دروغ څۀ دی رښتيا

زۀ ساٸر چې کله دا حقيقت وايم
بيا کوی خلق په ما پورې خندا



پښتو
ډیجیټل لائبرېرۍ
Pukhto.net

## استقلال

غاپی سپی به غاپی ترې نه مهٔ کوه خطر
زهٔ په خپله لاره په منزل لره نظر

پخه که اراده وی خو چې مل ئې استقلال نهٔ وی
مقصد سره د مینې چې د شمع پتنګ حال نهٔ وی
اکثر د داسې خلقو وی شکست په مقدر



پښتو ورلډ نټ
Pukhto.net

زۀ پـــه خپلـــه لاره پـــه منـــزل لـــره نظـــر

فـام اوکـړه میړی تـه چې ځـو ځـو ځله پسپاشی د ے
ښمه لاره لاړ شـی خـو واپـس شـی او پـه شـا شـی د ے
خیـــژی او غـــورځیږی خـــو روان وی پـــه ســـفر
زۀ پـــه خپلـــه لاره پـــه منـــزل لـــره نظـــر

شـــاهین ئـــې دا قبـــال لـــړ نظرونـــه عقـــابی لـــره
هـدف تـه رسـېدو تـه دې پـه زړۀ کښـې بـې تـابی لـره
اوچـــت لـــره پـــرواز دې او خـــواره لـــره وزر
زۀ پـــه خپلـــه لاره پـــه منـــزل لـــره نظـــر

رب د هغـو مـل وی چې پـه رب بانـدې توکـل کـوی
لګـی سـر د لانـدې بنـدګی چې څـوک د بـل کـوی
ریښـتیا وائـی قسـم د ے پـه سـائر کـوه بـاور
زۀ پـــه خپلـــه لاره پـــه منـــزل لـــره نظـــر



پښتو ورلډ نیټ
Pukhto.net

# قران

په دې مۀ شه چې څوک تا څۀ رنګ له ستائی
تل هغه کوه چې رب دې درته وائی



پښتو
pukhto.net

پـاس د رب فرمـــان قـــران دوړو كښې پـروت د ے
دا رواخلــه ځـان پـرې پوهــه كـړه چـې څـهٔ ښـائى

دا عبـث نــه دى خبـرې چـې تـرې ګرځـې لـرې لـرې
دا فرمـــان مـــو د خـــالق د ے دى لعلونـــه ملغلـــرې

په لفظ لفظ د ده عـامل شه صـالحانو كښې شـامل شه
دا منم چې مسلمان ئې خو ايمان بانـدې كـامل شه

د ائـين د ے دا دسـتور د ے دا رڼـا ده دا يـو نـور د ے
هر عـاقل پرې ښهٔ پوهيږى چې خاوند لرې د شعور د ے

پاڅـهٔ پټـې سـترګې واكـړه نابينـا ئـې ځـان بينـا كـړه
سيم و زر د جهـان سـتا دى خو جهـان پرې لږ رڼا كـړه



پښتو
ټولګي نټ
Pukhto.net

## د نفس بندګی

سائره بس کړه دا لش پش زندګي
ډېره دې اوکړله د نفس بندګي

ژوند دې عبث په دنیا تېر کړلو
د رب بنده وې رب دې هېر کړلو
ځان دې د نفس په دام کښې ګېر کړلو
وی نامراد د داسې کس زندګي



پښتو ورلډ نیټ
Pukhto.net

سـر دې راكـوز كـړه خپـل ګرېـوان اوګـوره
ځـان ښـۀ پـه غـور پـه دهيـان اوګـوره
بيـا سـترګې پرانېـزه جهـان اوګـوره
تـا اسـره كـړې د تـپس زنـدګي

تـل اموختـه پـه بـده لار شـولې
ځكـه بـې وسـه بـې اختيـار شـولې
خـلاص پـه دنيـا كښـې د وقـار شـولې
تويـه تويـه مـې د بـې وس زنـدګي

نـن درتـه وخـت د ے سـر عـام اووايـه
پـه خـاص او عـام د حـق پېغـام اووايـه
ښـۀ ئـې پـه لـوړه ښـۀ ئـې پـه بـام اووايـه
سـبا بـه نـۀ مـومې يـو خـس زنـدګي



پښتو ورانګ
Pukhto.net

# ارمان

ارمان به هله زما درشی وروره چې ټول غم دې په سر شی
بیا لکه مچ منګولې مروړه چې دې اشنا اِدهر اُدهر شی



پښتو
Pukhto.net

ارمان به اوکړي زۀ به نۀ يم اوس مې کړه خپل چې درسره يم
د هغې وخت په ژړا څۀ کړم چې مې تالو ژبې له ور شي

بيا که په چغو ژاړې يا دې بهيږي اوښکې لاړے
ئې به د خلقو د پشاړې که دې زخمي مخ او کپر شي

لږې خبرې مې ترخې دی خو تهولې ستا په حق کښې ښې دی
د نصيحت ډکې توخې دی چې يار مې بچ د بد نظر شي

ستا خوشحالي مې مدعا ده د رب نه دغه مې دعا ده
ښۀ ځلنده لکه نمرشي چې په سائر باندې اختر شي



پښتو
Pukhto.net

## کله ښۀ او کله بد

د دنیا ژوند کله ښۀ وی کله بد
دا فطرت به د دنیا وی تر ابد

لږه راوړی خوشحالی زړۀ په خندا کړی
بیا غمونه پسې سم وی قد په قد

کله پورې کله سپوره ئې رواج دے
او کله ډېر وی نعمتونه څۀ بې حد

څۀ عبث سائره زړۀ ورپورې تړې
ښۀ پرې پوهه ئې زور په زیر او شد په شد



پښتو
pukhto.net



## لیونې

لیونې وې چې په څه نه پوهېدلې
یا غرڅه وې چې په غرونو ګرځېدلې



پښتو
Pukhto.net

د تودو سرو د ژوند احساس مې نۀ وے
يو بوتی وے چې بس هسې رقېدلے

د ښۀ بد د پېژندو حس مې اودۀ وے
شپه او ورځ مې د دنيا نۀ پېژندلے

نا جائزې په دنيا مې ښې ليدلې
نۀ رنګ مې بدليدلې نۀ مې غنې اودرېدلے

چا رټلے ، چا په وازه خله کنځلے
ما هيڅ هم نۀ وئيلے بس پټ پټ مې خندېدلے

بې حسابه خلاصېدو مې مقدر
خبر دے دلته که په کانړو چا ويشتلے



پښتو ورلډ ښت
Pukhto.net

## سحر بې نور

يو سحر دے خو بې نور دے
عجيبه غوندې كلتور دے
بس يو ظلم دے او زور دے
غل په شور دے وائي چور دے

قاتل وائي مسيحا يم
وائي د هر مرض دوا يم

پښتو
pukhto.net

لیونی پسې تول زغلي
خدائے ګوهر سړے شمکور دے

ډېر د زهرو پیاله ښائي
څښنه پهٔ مینه راته وائي
پهٔ دوا ئې راته ستائي
خو غرض ئې پهٔ زړهٔ نور دے

یو اتڼ پهٔ کور او کور دے
یو مستي ده ټنګ ټکور دے
هغه بل دے که مې ورور دے
د هوا پهٔ ټټو سور دے

تل سائره پهٔ خطا وې
هم قابل د دے سزا وې
ته پهٔ طمع د هغه چا وې
چې نن پرې مخې نسکور دے



پښتو
Pukhto.net

## همت

راشه او راشه لږ خو په ساه شه
پرېږده غمونه او په خندا شه

پرېږده غمونه تر څو به ژاړې
ګرځې پښې ابله شلېدلی غاړې
ځان دې رنځور کړو ښۀ توانا شه
پرېږده غمونه او په خندا شه

ژوند د دنیا ټول معمور د غم وی
لږ خندا وی باقی ماتم وی


پښتو
Pukhto.net

چې څۀ قسمت وی تۀ پرې رضا شه
پریږده غمونه او په خندا شه

چې څوځونده ئې خورې به سپیرې
دائې دستور دے ما څۀ له چیړې
دا سترګې ژوند دے ترینه اشنا شه
پریږده غمونه او په خندا شه

همت پیدا کړه مرد میدان شه
ځلنده ستورې پاس د اسمان شه
په تورو شپو کښې جوړه رڼا شه
پریږده غمونه او په خندا شه

د خوار سائر دا پوره ارمان کړه
په ښکلی مخ دې خوریو مسکان کړه
د زخمی زړونو مرهم دوا شه
پریږده غمونه او په خندا شه



پښتو ویب پاڼه
Pukhto.net

## محبت

نن سبا کښې حقیقی محبت نشته
هسې تش دی فریبونه الفت نشته



پښتو
Pukhto.net

عاشقي هم د پیسو په چال چلیږي
ورک هغه دے چې ورسره دولت نشته

رقابت کښې رقیبان کامیابي مومي
تشې مینې دي دخلې صداقت نشته

مینه اور د هجران دے ځان پرې سېزه
هسې ځان به کړې ستي پکښې راحت نشته

او چې جنازې پکښې د ننګ وفا وتلې وي
بس کړه سائره د دې مینې حاجت نشته



پښتو
Pukhto.net

## نیمګړی خواری

څوک چې نه منی د خپل مشر خبرې
تل نصیب به وی د هغه ځوان ډغرې

شا مدام به د تیارې په موګی لویږی
هم په لاره ئې راځی کندې کمرې


پښتو ورانګ نټ
Pukhto.net

ملګرو را پاڅئ دا کاږه نیغول غواړی
دظلم او د زور دا تور نظام بدلول غواړی

د یو ادم اولاد یو ، په غټ او په کچ یاد یو
د فرق او امتیاز دا لوړ دیوال نړول غواړی

څوک خوری د چرګ پسانی څوک الوزوی خراړې
د عدل او انصاف دا شمع بیا بلول غواړی



پښتو ورلډ نېټ
Pukhto.net

چې مې پکار نۀ راځی په هغې خپل به څۀ کړم
یا چې مې لار کښې پرېږدی په هغې مل به څۀ کړم

او چې ئې سینه کښې د اخلاص شمع روښانه نه وی
لاس دې څوک نۀ راکوی تشه منګول به څۀ کړم

او یا چې د پت وفا په خوا چرې تېروتے نۀ وی
نو په لویو بریتو څۀ کړم او لوئے اوربل به څۀ کړم


پښتو ورلډ نیټ
Pukhto.net

## دو رنګي

چې مړ وينمه نو مرګ راته رایاد شي
جوړ محل د تصور زما برباد شي

ترمې اوښکې مې په مخ قطار قطار شي
روح مې لږ شان د شيطان د قيد ازاد شي

سوچ مې واخلي او د فکر په تال ځانګم
لاس او پښې تويه تائب مې د فساد شي

لږ ساعت له ښځ د ځان نه پارسا جوړ کړم
خو ساعت وروستو بيدار راکښې جلاد شي



پښتو ورلډ ښو
Pukhto.net

خلق وائی اووایه خو شۀ اووایم
د ژوند تاوده او که ساړۀ اووایم

د وخت د کوم ګوذار قصه اوکړمه
زۀ ئې خواږه او که تراخۀ اووایم

د ستم ګر کوم یو ستم اوژاړم
درته ئې بد او که زۀ ښۀ اووایم

که مې د یار ادا نخره اوستایم
زۀ ئې خندا او که غصه اووایم

وائی سائر په زړۀ مې ډېر شۀ دی خو
بیا به خفه شی که هغه اووایم


پښتو
Pukhto.net

# دار

څوک چې ځان ته اوښیار وائي اوښیار نهٔ دے
بې وقوف دے په دے راز خبردار نهٔ دے

متلونه که چا ډېر واړه ازده کړل
تش متلي څه د عقل معیار نهٔ دے

چې په حق باندې په تس ژبه رانغاړی
دا ظالم د مشرۍ دې حقدار نهٔ دے

یا چې غم کښې دې څوک خپله ښادی ګوری
دغه خپل دې په خپلوۍ کښې غم خوار نهٔ دے

زهٔ سائر به شا مدام حقیقت وایم
که منصور غوندې په دار شوم نو دار نهٔ دے



پښتو
ورلډ نیټ
Pukhto.net

# تغیـــــر

کلـه ریـژمـه وچ بنـګ شـم، کلـه ونـه دلونـګ شـم
کله رنګ لکه بد رنګ شم، کله څنګه کله څنګ شم

کلـه میاشت د پشـکال شـم، ورنـده ښـه بـې مثـال شـم
کله پسکه په خله ګرځم ښه سپېره شمه لفنګ شم

کلـه طمـع د انسـان کـړم، ځـان د کمـره اویـزان کـړم
کله رب ته په زارۍ شم، او د هر چا نه په سنګ شم

کلـه سـرے سـترګې ژړېـږم ، کلـه خانـدم خوشـحالېږم
کله اوږد عمـر غـواړم ، کلـه زۀ د ژونـد نـه تنـګ شـم

چې تر عمره په يو حال دے هغه يو رب ذوالجلال دے
زۀ خو انسـان متغير يم ، وايـه چـا سـره پـه جنـګ شـم



پښتو
ولاړ ښې
Pukhto.net

## بندیوان

بندیوان د غلامۍ په لوئې زنځیر یم
لویه خدایه ستا په زمکه نن زهیر یم



پښتو
Pukhto.net

پـــه مظلـــوم بانـــدې د ظلـــم انتهـــا شـــوه
فریـــاد نـــهٔ اوري ظـــالم وائـــي بـــې ضـــمیر یـــم

د محنـــــت او مشـــــقت څـــــه قـــــدر نشـــــته
چـــې نقـــدي وي ورســـره وائـــي کبیـــر یـــم

امیـــــران مـــــې د قـــــانون ســـــره لـــــوبیږي
دې غریـــب تـــه پـــه ګویـــا شـــي چـــې زهٔ تیـــر یـــم

د مظلـــوم د آه یـــو داســـې طوفـــان غـــواړم
چـــې بیـــا وائـــي زهٔ بهیـــر یـــم زهٔ بهیـــر یـــم

چـــې تنـــدے د هـــر غریـــب پـــرې خفـــه نـــهٔ شـــي
او چـــې دا نـــهٔ محسوســـېږي چـــې زهٔ فقیـــر یـــم



پښتو ویب نیټ
Pukhto.net

# ښکلے دے وطن زما

ښکلے دے وطن زما ، ښکلے د جهان دے
ځان به پرې قربان کړمه دا زما ایمان دے

ښکلے دے وطن زما ښکلي ئې بادونه دي
هر خوا ته چې ګورمه رنګ په رنګ ګلونه دي
زار ئې د فصلونو شم زار ئې دخوندونو شم
کانې ئې لعلونه دي سره زر ئې سپندونه دي

چرته خو دشتونه دي چرته نخلستان دے
ځان به پرې قربان کړمه دا زما ایمان دے

په ډیرو قربانو سره مو دا وطن ګټلے دے
بیا د حفاظت د دې مونږ پوخ قسم خوړلے دے
سترګې به تری اوباسو څوک چې ورته بدګوری
څو څو ځله مونږه دې دنیا ته ځان ښودلے دے



پښتو ورلډ ښ
Pukhto.net

دا زمونږ آن دے هم دا زمونږه شان دے
ځان به پرے قربان کړمه دا زما ایمان دے

افغان که پنجابیان یو مونږه ورونړه یو
د سندهـ که د بولان د یو ګلشن ګلونه یو
ستوری د ملت یو مونږ د یو نبی امت یو مونږ
یقین په یو الله لرو ولاړ پرې لکه غرونه یو

یوزمونږه دین دے او یو زمونږ قران دے
ځان به پرې قربان کړمه دا زما ایمان دے

پته پناه نۀ وایم زۀ سائر په جار ویم
یو واري ئې نه وایم بنه ئې په بار بار ویم
نه ویره د چا کوم نۀ شرم حیا کوم
څه چې مې په زړۀ دی واؤره هغه په بازار ویم

شنۀ سپینه جهنډه لری نوم ئې پاکستان دے
ځان به پرې قربان کړمه دا زما ایمان دے



پښتو
pukhto.net

# دعا

سوال کووم زاری کووم یو نوے جهان غواړم
د رب نه په دې سیمه ښهٔ د مینې باران غواړم

ډېرو نفرتونو مې چمن تالاواله کړلو
ځکه دواړه لاس مې ربه پورته په دعا کړلو
زمکه شوه ازغینه زهٔ کرل پرې ګلان غواړم
د رب نه په دې سیمه ښهٔ د مینې باران غواړم

ګلونه د یو باغ یو خو د یو بل نه بې زاره یو
بهر نه ښکارو یو خو په دننه پاره پاره یو



پښتو
Pukhto.net

زهٔ د رنګ په رنګ ګلونو يو ګلستان غواړم
د رب نه په دې سيمه بنهٔ د مينې باران غواړم

مينه مينه نشته دے خبرې تول د خولې کوو
د وس پورې خبره ده چې اوشي بيا حملې کوو
خدائے ګو په مخونو د ريښتاؤ مسکان غواړم
د رب نه په دې سيمه بنهٔ دمينې باران غواړم

داسې يو جهان وے چې هر خوا ته خوشحالياني وے
ورک د زړونو غم وې او چاپيره خنداګاني وے
دا مې دے ارمان خدايه پوره مې ارمان غواړم
د رب نه په دې سيمه بنهٔ د مينې باران غواړم

زهٔ ساٸر په خواره خله خالقه دا دعا کووم
بادشاه ئې قبلونکې رېه تا ته التجا کووم
ډېر ئې اوژړل نور په خندا مسلمان غواړم
د رب نه په دې سيمه بنهٔ د مينې باران غواړم



پښتو
ټولګی بنټ
Pukhto.net